سرلوڅ مرادزی

۱۸ / ۱۰ / ۲۰۲۴

# اعجاز

زه چي وینم داسي وخت په پښتون راغی
چي کاروان د زماني سره اوس تلی شي
په پیړی پیړی په خوب ویده ملت نن
له خوب پاڅید اوس په وینو کي شمېری شي
د انګریز په لاس پاشلي، تیت ولسونه
په خیبر جرګه کي بیرته تولېدی شي
که پښتون یي د اسلام په نوم دوکه کړ
د پنجاب اصلي څېره اوس ښه لیدی شي
د جرګي پرېکړې چي کله عملي شي
پنجابی به په پنجاب کي لیونی شي
پښتنو ته بل میرویس په نصیب راغی
په پنجاب کي ناست ګورګین له منځه وړی شي
د منظور هره خبره معجزه ده
چي د مړ پښتون تر غوږه شي ژوندی شي
سریتوب نه په جمال نه په ډېر مال دی
چي د قام خدمت کي ودرېږي سړی شي
نهیلي له منځه دروميي چي یو هوډ وي
دروازې د هیلو بیرته پرانیستی شي
هغه کونډې، یتیمان چي نامید ول
د ښه ژوند ارزو یي ګوره چي رینتی شي
په اور سوي د ملت ستر ارمانونه
د ملت په واک کي ټول پوره کېدی شي
اوس یي وخت دی چي نفرت له منځه یوسو
یو پښتون دي بل پښتون نه سپېلنی شي
پنجابي تړل پنجاب کي سخت کار نه دی
پښتانه که سره موټی شي، یوځی شي
مرادزی د هغي ورځي په ارمان دی
پېښور چي بیا پایتخت مو ژمنی شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ